مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۱۰ / ۰۶ / ۲۰۲۲

چادري

چادري کې مخ پټون ته څه اړتیا ده
که زاهد له وران کتلو واخلي لاس
د مخ ستر نه، د زړه ستر مهم دی
که منصف له دروغ ویلو واخلي لاس
د جومات ګوټ کې دېره، ملا د کلي
اشارو ته دې له نجونو واخلي لاس
د جومات محراب خو ځای د لعب نه دی
که امام هلته له ژړو واخلي لاس
د تقوا دعوه د شیخ هلته منظور ده
چې له څو ښځو کولو واخلي لاس
د ایمان دعوه د هغه چا پرځای ده
چې ایمان له خرڅولو واخلي لاس
ښځو هیڅ په ملا لاس جیګ کړی نه دی
ملایان دې د وهلو واخلي لاس
سپکاوی د ښځو خټه د ملا ده
سپی به کله له غپلو واخلي لاس
پخپل کور ورته د حج ثواب رسیږي
که حاجي د زړو ځپلو واخلي لاس
هغه څوک به عقیدې خپلې ته ژمن وي
چې په بل یې له تپلو واخلي لاس
لمونځ، روژه د هر چا خپل شخصي دیانت دی
مسلمان دې له وژلو واخلي لاس
هغه دین ایین په نورو کې بهتر دی
چې نفرت له خپرولو واخلي لاس
مسلمان ته که خپل دین په ریښتیا ګران وي
د بل دین دې له کنځلو واخلي لاس
د ۲۰۲۲ کال د جون ۹ مه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ